# د ملي يووالي حکومت پرمهال په افغانستان کې د روسانو لېوالتيا او ستراتېژي (۲۰۱۴-۲۰۱۹)

**څېړندوی عمران زکریا[1]**

***لنډيز***

*روسيه په افغانستان کې اوږدمهالې ستراتيژيکې لېوالتياوې لري، چې په دې کې د هېواد سياسي ثبات، اقتصادي پرمختګ او د نشه يي توکو مخنيوی دی. په افغانستان کې د مسکو ستراتيژي څه دا رنګه ده، چې له يوې خوا، نه غواړي امريکايي ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي، خو له بلې خوا بيا دا هم نه غواړي، چې بهرني ځواکونه دې له افغانستانه سمدستي او چټک ووځي او په دې توګه ګډوډي شاته پرېږدي.*

*په افغانستان کې د روسيې لېوالتياوو وخت ته په پاملرنې بدلون موندلی دی؛ د سترې لوبې (The Great Game) په اوږدو کې افغانستان د روسيې لپاره د ځمکنۍ پراختيا په پار يو ښه فرصت و. د دوو نړېوالو جګړو او سړې جګړې پرمهال ورته د کابل ناپېيلتوب ارزښت درلود. د دې ترڅنګ د ۲۰ مې پېړۍ په ۱۹۸۰ مه لسيزه کې پر افغانستان د پوځي يرغل تر شا ګرمو اوبو ته رسېدل او په افغانستان کې د خپلو ايډيالوژيکو پلويانو د حکومت باثباته کول د روسانو د لېوالتياوو نور ډولونه وو.*

*خو اوس‌مهال مسکو افغانستان ته نور د يو فرصت په سترګه نه، بلکې د يو داسې هېواد په توګه ګوري، چې له بې ثباتۍ، د بهرنيو ځواکونو له شتون او نشه يي توکو له کرکېلې څخه پاک وي؛ ځکه د مسکو په ګمان د دغو درې واړو په شتون کې به لومړی منځنۍ آسيا او بيا په دويم قدم کې روسيه اغېزمنه شي.*

***کيلي:*** *روسيه په افغانستان کې، داعش، افغان-روس اړيکې، د مسکو افغان سولې پروسه*

## سريزه

له تاريخي پلوه په افغانستان کې بې ثباتي د بهرنيو لاس‌وهنو او د هېواد او سيمې پر سر د سياليو له امله ده. په ۱۹مه مېلادي پېړۍ کې په افغانستان کې د روسيې ښکېلتيا له برتانيې سره پر سيالۍ پېل شوه، چې يادې سيالۍ هغه مهال د سترې لوبې Great Game په نامه شهرت درلود[2].

د ۲۰مې مېلادي پېړۍ پرمهال د امريکا او روسيې ترمنځ سړه جګړه، چې نړۍ يې پر دوو قطبونو وېشلې وه؛ افغانستان ته يې هم رېښې په ۱۹۵۰مه مېلادي لسيزه کې راوغځېدلې او په پای کې د سړې جګړې پرمهال د امريکا او روسيې دغه رقابت هم همدلته پای ته ورسېد. په ۱۹۹۰ مه ميلادي لسيزه کې په افغانستان کې د کورنۍ جګړې له کبله روسيې په منځنۍ آسيا کې

[1] څېړندوی عمران زکريا د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سيمه‌ييزو څېړنو مرکز علمي غړی او اوس‌مهال د چين په Central China Normal University کې په نړېوالو اړيکو کې ماسټري کوي.

[2]Kathryn Stoner, Russia's 21st Century Interests in Afghanistan: Resetting the Bear Trap, University of California Press, Asian Survey, Vol. 55, March/April 2015, P.399. Access date: 10 June 2019. Online access: *https://www.jstor.org/stable/10.1525/as.2015.55.2.398*

خپل پوځي شتون زيات کړ. د دې ترڅنګ، د ۱۹۹۰ مې لسيزې په وروستيو کې د روسيې اړيکې له طالبانو سره هغه مهال خرابې شوې، چې کله طالبانو په ۲۰۰۰ز کال کې په يوه اړخيزه توګه د چېچنيا خپلواکي ومنله[3].

د طالبانو رژيم له ړنګېدو سره سم، د ۲۰۰۱ز کال د نومبر پر ۲٦ مه د روسانو يو ډيپلوماتيک پلاوی کابل ته د ډيپلوماتيک ماموريت پرانېستلو په موخه راغی[4].

معاصره فدراتيفه روسيه د ولاديمير پوټين تر رهبرۍ لاندې په افغانستان کې امنيتي او اقتصادي لېوالتياوې لري. په ۲۰۰۱ز کال کې د امريکا متحدو ايالتونو تر رهبرۍ لاندې پر افغانستان تر بريد وروسته، روسيه په کمه کچه په افغانستان کې د امريکا له متحده ايالاتو سره په پوځي عملياتو کې ښکېله شوه. دغه ښکېلتيا د شمال ترانسپورتي لارې تاسيس او پرانېستل او بيا په منځنۍ اسيا کې د ناټو ځواکونو ته د دغې سيمې پوځي اډو ته د لاسرسي زمينې برابرول وو. دغه مهال په افغانستان کې د روسيې بنيادي ګټې د افغانستان ثبات، اقتصادي پرمختګ او ستره هڅه يې له افغانستان څخه منځنۍ اسيا او بيا روسيې ته د نشه يي توکو د قاچاق مخنيوی وو[5].

په ۲۰۰۴ز کال کې په اوکراين کې د رامنځته شوو پېښو – په ځانګړې ډول نارنجي انقلاب – له امله د روسيې او لوېديځ اړيکې سړې شوې، نو دې د روسيې او افغانستان پر اړيکو هم اغېزې وښندلې او په پايله کې په ۲۰۰٦ز کال کې مسکو د پخواني ولسمشر حامد کرزي له حکومت سره خپل پوځي ملاتړ ته د پای ټکی کېښود[6].

دغه مهال د امريکا-افغان او امريکا-روسيې اړيکو خرابېدو ته جدي اړتيا وه، څو د افغان-روسيې همکاري بيا له سره پيل شي. داسې چې د ۲۰۰۸ز کال په اپرېل کې د متحدو ايالتونو د پخواني ولسمشر اوباما د ټاکنيز کمپاين يو له بنسټيزو موضوعاتو له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو ويستل وو، نو د اوباما ټيم په ښکاره ډول پر کرزي او په افغانستان کې پر اداري فساد نيوکې وکړې. په پايله کې کرزي هڅه وکړه، چې د متحدو ايالتونو او ناټو پر ځای د خپل هېواد د بهرنيو اړيکو ليدلوری بدل کړي. هممهاله، د ناټو له لوري ګرجستان ته په ناټو سازمان کې د غړيتوب وړانديز او د روسيې او ګرجستان تر منځ پنځه ورځنۍ جګړې د مسکو او لوېديځ اړيکې لاپسې سړې کړې. په پای کې په ۲۰۰۹ز کال کې د افغان-روسيې په حکومتي کچه تماسونه د ولسمشر کرزي او ولسمشر مېدوېدوف ترمنځ د خطونو له تبادلې وروسته يو ځل بيا پيل شوې[7].

له پورتني حالت څخه په ډاګه کېږي، چې د ولسمشر کرزي هدف لوېديځ ته په ډاګه کول و، چې افغانستان نورې لارې هم لري، ترڅو خپلې اړيکې پياوړې او ملګري پيدا کړي. د ۲۰۱۴ز کال په اوږدو کې په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو د شمېرې په کمېدو سره، روسيې هم لکه د يو شمېر ګاونډيانو او سيمې هېوادونو په څېر په افغانستان کې لېوالتيا په اوتومات ډول زياته شوه. د سيمې په کچه د روسيې بنسټيزه لېوالتيا د منځنۍ اسيا په جمهوريتونو کې ثبات وو. روسيه اوسني افغانستان ته د يو

[3]Richard Ghiasy, the Evolution of Russian Geopolitical Interests in Afghanistan: from Opportunity to Liability, 22 March 2017. Access date: 24 June 2019. Online access: *https://www.bishkekproject.com/memos/13*

[4]Thomas Ruttig, From Point Zero to 'New Warmth': Russian-Afghan Relations since 1989, Afghanistan Analysts Network, 8 Aug 2014, P4. Access date: 5/6/2019. Online access: *https://www.afghanistan-analysts.org/from-point-zero-to-new-warmth-russian-afghan-relations-since-1989/?format=pdf*

[5]Kathryn Stoner, Russia's 21st Century Interests in Afghanistan: Resetting the Bear Trap, University of California Press, Asian Survey, Vol. 55, March/April 2015, P.398. Access date: 10 June 2019. Online access: *https://www.jstor.org/stable/10.1525/as.2015.55.2.398*

[6]Joakim Brattvoll, Is Russia Back in Afghanistan? Peace Research Institute Oslo, 04 2016, P. 3. Access date: 16/6/2019.

[7]Thomas Ruttig, From Point Zero to 'New Warmth': Russian-Afghan Relations since 1989, Afghanistan Analysts Network, 8 Aug 2014, P5. Access date: 5/6/2019. Online access: *https://www.afghanistan-analysts.org/from-point-zero-to-new-warmth-russian-afghan-relations-since-1989/?format=pdf*

مسوولیت په سترګه ګوري، نو ځکه روسیه په افغانستان کې ګام په ګام خپل رول لوبوي. روسیه په افغانستان کې نفوذ غواړي، څو له دې لارې په منځنۍ اسیا کې خپلې امنیتي لېوالتیاوې چټکې کړي. همدارنګه روسیه د منځنۍ اسیا په ګاونډ او سوېلې اسیا کې د امریکا اوږدمهاله پوځي شتون نشي زغملی، نو هڅه کوي په افغانستان کې پیاوړې مرکزي حکومت رامنځته شي، څو د امریکا او ناټو ځواکونو د پوځي شتون زمینه راکمه شي[8].

له بله اړخه، په افغانستان کې د داعش پراختیا روسیې ته زمینه چمتو کړه، چې له طالبانو سره خپلې اړیکې ټینګې او لاپسې پیاوړې کړي. هر څومره چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت خرابېږي او هېواد د سیاسي بې ثباتۍ پر لور ځي، هومره روسیې ته په منځنۍ اسیا کې د پوځي شتون او نفوذ زمینه برابرېږي.

## تیوري

د نړېوالو اړیکو د ریالېزم تیوري له مخې انسان خود غرضه او د خپل قدرت زیاتولو لېواله دی؛ له همدې امله د تاریخ په اوږدو کې د جګړو شاهدان یو، چې دولتونه هڅه کوي له هره اړخه خپل قدرت زیات کړي. ماکیاولي په ۱۵۳۲ز کال کې په خپل کتاب (The Prince) کې پر دې ټینګار کوي، چې د رهبر اساسي دنده د ملي امنیت خوندي کول دي او د دې لپاره چې دغه دنده په ښه توګه ترسره کړي، باید کورنیو او بهرنیو ټولو خطرونو ته متوجه اوسي[9].

په ۲۰۱۴ز کال کې له روسیې سره د کریمیا یوځای کېدل د پیاوړې روسیې د بېرته راګرځېدو تصدیق کوي، چې دا په روسیه کې د نړېوالو اړیکو د نورو تیوریو پر باور لرونکو د ریالېستانو له سپیناوي سره مرسته کوي. د روسیې بهرنۍ پالیسي د سړې جګړې پر مهال او اوس هم د ریالېزم تیورۍ پر بنسټ ولاړه ده، چې رهبران یې د ملي ګټو پر بنسټ ګامونه پورته کوي[10].

په ۲۰۰۷ز کال کې د میونیخ په کنفرانس کې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوټین د روسیې د بهرنۍ پالیسۍ نوی چوکاټ په ښه کړ، چې تر دې دمه د ریالېزم تیوري پر اساسي اصولو او د روسیې هېواد پر ګټو ولاړ دی[11]. روسیې هم د سړې جګړې او هم اوسمهال په خپل بهرني سیاست کې د قدرت د موازنې میکانیزم پر مخ وړي.

## د افغانستان او روسیې پر اړیکو د مسکو- واشنګټن اړیکو سیوری

په ۲۰۰۱ز کال کې روسیې پر افغانستان د امریکا د برید ملاتړ وکړ؛ په پایله کې د طالبانو رژیم نسکور شو، ډېره موده وروسته د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي وویل، "افغانستان هغه مهال یوازینی ځای و، چې د مسکو او واشنګټن ګټې سره په ټکر کې نه وې"[12].

[8]Richard Ghiasy, the Evolution of Russian Geopolitical Interests in Afghanistan: from Opportunity to Liability, 22 March 2017. Access date: 24 June 2019. Online access: *https://www.bishkekproject.com/memos/13*

[9]Sandrina Antunes and Isabel Camisao, Introducing Realism in International Relations, 27 FEB 2018. Access date: 25 June 2019. Online access: *https://www.e-ir.info/2018/02/27/introducing-realism-in-international-relations-theory/*

[10]Sumantra Maitra, Realism in Russian Foreign Policy: The Crimean Case, CLAWS Journal, 2014, P116. Access date: 25 June 2019. Online access date: *https://www.claws.in/images/journals_doc/267144158_SumantraMaitra.pdf*

[11]تېر مأخذ، ۱۲٦ مخ

[12]Afghanistan-Russia Relations, Global Security. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.globalsecurity.org/military/world/afghanistan/forrel-ru.htm*

روسيې په ۲۰۰٦ز کال کې له افغانستان سره خپلې پوځي مرستې بندې کړې. د افغانستان-امريکا او روسيې-امريکا اندېښنو زياتوالي د کابل او مسکو حکومتونو ترمنځ لېوالتياوو ته لاپسې زمينه چمتو کړه؛ داسې چې د پخواني ولسمشر کرزي او اوباما ترمنځ اړيکې ډېرې سړې شوې. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پخواني استازي کای ایډې (Kai Eide) په وينا، کرزي غوښتل له متحدو ايالتونو غچ واخلي، همدغه و چې د سوچي په المپيک لوبو کې يې ګډون وکړ، چې لوېديځو هېوادونو ورسره بايکاټ کړی وو، ان په ۲۰۱۴ز کال کې کرزي له روسيې سره د کرېميا د يوځای کېدو ملاتړ هم وکړ[13].

همدارنګه روسيې د ۲۰۱۰ز کال په اوږدو کې د امريکا-روسيې اړيکو تر خرابېدو وروسته بيا هڅه پيل کړه، چې له طالبانو سره اړيکې ټينګې کړي[14].

په افغانستان کې د روسيې لېوالتيا او بښکېلتيا بايد د امريکا او روسيې د دوه اړخيزو اړيکو له لارې وپېژندل شي. درې نمونې يې د توپير وړ دي:

1. د سپټمبر له ۱۱ مې وروسته، د روسيې له خوا د ترورېزم پر وړاندې د امريکا په جګړه کې لومړنۍ همکاري؛
2. له ۲۰۰۵ز کال څخه تر ۲۰۱۰ز کال پورې په منځنۍ اسيا کې د امريکا د موخو پر وړاندې د شک راپورته کېدل، چې روسيې په افغان جګړه کې د همکارۍ پر ځای د خنډونو جوړولو هڅې پيل کړې؛
3. له ۲۰۱۱ز کال را په دېخوا او له ۲۰۱۴ز کال وروسته د امنيتي تشې په اړه د روسيې د اندېښنو زياتېدل، خو ترځنګ يې په کمه اندازه د روسيې همکاري[15].

د روسيې چارواکي له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو د بېړني تګ له کبله سخت اندېښمن وو، چې دا به د افغانستان او سيمې امنيت وګواښي.

که د پايلې په توګه ووايو، نو روسيه له دريو غوراويو سره مخ شوه:

1. د ۱۹۹۰ مې لسيزې پاليسۍ ته بېرته ګرځېدل او د شمال له ټلوالې ملاتړ، څو د شمال بفر زون بيا تاسيس کړي، او له دې لارې د منځنۍ اسيا متحدين له يرغله خوندي کړي.
2. د ملي يووالي له حکومت سره همکاري او يا هم له معتدله طالبانو سره همکاري.
3. له لوېديځو هېوادونو سره همکاري او له منځنۍ اسيا څخه د خوندي سيمې راچاپېرول[16].

په حقيقت کې د افغانستان پر وړاندې د روسيې له بهرني سياست څخه په ډاګه کېږي، چې روسيه په منځنۍ اسيا او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د خپل نفوذ پراختيا غواړي، څو د سيمه‌ييز قدرت په توګه خپلې او د خپلو متحدينو ګټې خوندي کړي.

---

[13]Joakim Brattvoll, Is Russia Back in Afghanistan? Peace Research Institute Oslo, 04 2016, Pp. 3-4. Access date: 16/6/2019.

[14]Arkady Dubnov, What game is Russia playing in Afghanistan? 14 Nov, 2018. Access date: 18/6/2019. Online access: *https://www.aljazeera.com/indepth/opinion/game-russia-playing-afghanistan-181113160715311.html*

[15]Kathryn Stoner, Russia’s 21st Century Interests in Afghanistan: Resetting the Bear Trap, University of California Press, Asian Survey, Vol. 55, March/April 2015, Pp.418-419. Access date: 10 June 2019. Online access: *https://www.jstor.org/stable/10.1525/as.2015.55.2.398*

[16]Kathryn Stoner, Russia’s 21st Century Interests in Afghanistan: Resetting the Bear Trap, University of California Press, Asian Survey, Vol. 55, March/April 2015, Pp.418-419. Access date: 10 June 2019. Online access: *https://www.jstor.org/stable/10.1525/as.2015.55.2.398*

روسي چارواکي پر دې باور دي، چې روسیه په افغانستان کې چندان ښه موقعیت نه لري، نو ځینې وخت فکر کوي، چې روسیه دې په افغانستان کې د بې ثباتۍ ستر خطر ومني، خو امریکا ته به دا پیغام واستوي، چې روسان د امریکا فشار نشي منلی[17].

## د افغان طالبانو او روسيې اړیکې

افغان طالبانو هغه مهال چې په ۱۹۹۵ز کال کې یې د هېواد یو شمېر ولایتونه تر کنټرول لاندې وو، له روسیې سره د اړیکو د تاسیس غوښتنه وکړه. د ۱۹۹۵ز کال په اګست کې د روسیې الوتکه د طالبانو د جټ الوتکې له لوري دې ته اړ شوه، چې د کندهار په نړیوال هوایي ډګر کې ناسته وکړي، وروسته که څه هم افغان طالبانو د روسانو الوتکه پرېښوده خو دغه مهال د دواړو لوریو ترمنځ په ډیپلوماتیک ډګر کې مخامخې ناستې وشوې. د دغو خبرو اترو پرمهال طالبانو وکولای شول، د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال په کندهار ولایت کې ځای پر ځای شوي ماینونه خنثی کړي. همدارنګه طالبانو هڅه وکړه روسیه دې ته مجبوره کړي، چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي څوکۍ د طالبانو په استازیتوب ومني، خو روسیې دا کار ونه کړ او د پخوا په څېر یې د مجاهدینو د حکومت ملاتړ ته دوام ورکړ، او په دې توګه طالبانو ونشوای کړای د روسیې له لوري سیاسي ملاتړ ترلاسه کړي[18].

روسیې پر افغانستان د امریکا تر پوځي برید وروسته، د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۷ز کال کې له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړې، چې له افغانستان څخه منځنۍ اسیا ته د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي پر موضوع بحث وکړي. خو اوسمهال دغه تماسونه توپیر لري، د روسیې چارواکي ادعا کوي، چې په افغانستان کې د امریکا پالیسي له ناکامۍ سره مخ ده، نو ځکه روسیه غواړي په افغانستان کې «مداخله» وکړي[19].

د ۲۰۱٦ز کال په ډسمبر کې مسکو له طالبانو سره له خپلو پټو اړیکو پرده پورته کړه او د روسیې د بهرنیو چارو وزیر اعلان وکړ، چې له طالبانو سره استخباراتي معلومات شریکوي[20]، ترڅو په افغانستان کې د داعش پر وړاندې جګړه وکړي. افغان حکومتي چارواکو په غبرګون کې پر روسیې تور پورې کړ، چې له طالبانو سره د وسلو مرسته کوي، خو روسي چارواکو دا خبر رد کړ[21]. همدارنګه، طالبانو هم له روسیې څخه د پوځي ملاتړ موضوع رد کړه[22]. د افغانستان پر وړاندې د روسیې نوی دریځ داسې په ډاګه کوي، چې د اسیا په زړه کې یوه بله نوې ستره لوبه پیلېدونکې ده.

د دې ترڅنګ، د ۲۰۱۷ز کال په مارچ میاشت کې، په افغانستان کې امریکایي پوځي چارواکو مسکو پر دې تورن کړ چې د روسیې له لوري د افغان سولې د ډیپلوماسۍ موخه په افغانستان کې د ناټو ماموریت کمزوري کول دي او پر مسکو یې تور

[17] Antonio Giustozzi and Ali Mohammad Ali, the National Unity Government and Re-Shaping of Political Coalitions in Afghanistan, January 9, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: https://www.crpaweb.org/single-post/2018/01/10/The-National-Unity-Government-and-the-Re-Shaping-of-Political-Coalitions-in-Afghanistan-Antonio-Giustozzi-Ali-Mohammad-Ali

[18] Arkady Dubnov, What game is Russia playing in Afghanistan? 14 Nov, 2018. Access date: 18/6/2019. Online access: https://www.aljazeera.com/indepth/opinion/game-russia-playing-afghanistan-181113160715311.html

[19] Afghanistan-Russia Relations, Global Security. Access date: 6/6/2019. Online access: https://www.globalsecurity.org/military/world/afghanistan/forrel-ru.htm

[20] تېر ماخذ

[21] تېر ماخذ

[22] تېر ماخذ

پورې کړ، چې طالبانو ته وسلې ورکوي. خو روسي چارواکو دا تور رد کړ او په دې باندې يې اعتراف وکړ چې له طالبانو سره اړيکې لري[23].

د امريکايي پوځي چارواکو د ادعا پرضد روسي چارواکي وايي، چې امريکا له پوځي عملياتونو سره بيا هم د ټرمپ د ولسمشرۍ پر مهال دې ته ملا وتړله، څو له طالبانو سره روغې جوړې ته کښېني، نو روسيه هم هڅه کوي له طالبانو سره اړيکې پراخې کړي او د افغانستان شخړې ته د پای ټکی کېږدي. د سوريې، شمالي کوريا او د افغانستان په مسايلو کې د روسيې ښکېلتيا له امريکا سره د تعادل د موازنې برابروالی دی. له طالبانو سره د روسيې تماسونه کولای شي ځانګړې پايلې ولري. په افغانستان کې له طالبانو سره د روسيې اړيکې او د سولې په نامه له طالبانو سره مذاکرات په دې معنی، چې دا به په نړېواله کچه د شخړو په حل کولو او د روسيې په ښکېلتيا کې د روسيې له وضعيت سره ځانګړې مرسته وکړي، څو په نړېواله کچه مقام ترلاسه کړي[24].

په واشنګټن کې د وډرو وېلسن نړېوال څېړنيز مرکز کې مايکل کوګل من د ۲۰۱۷ز کال په جنورۍ کې وويل، چې روسيه څو لسيزې وړاندې له افغانستان څخه وتلې وه، خو اوس يو ځل بيا د افغانستان مسايلو ته رادننه شوې ده. د کوګل من په نظر، روسيې پر ځان ستر خطر منلی، چې په افغانستان کې د طالبانو لوري ته راګرځېدلې ده. کوګل من وايي: "روسيه د يو نادولتي لوبغاړي ملاتړ کوي، چې د داعش دښمن دی. همدارنګه روسيه له طالبانو څخه په افغانستان کې داسې ګټه اخلي، چې پر واشنګټن فشار راوړي. خو کوګل من دا هم وايي چې له طالبانو څخه د روسيې د ملاتړ تر شا داسې راز دی، چې سپړل يې ستونزمن کار دی"[25].

---

[23]تېر ماخذ

[24]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/*

[25]Afghanistan-Russia Relations, Global Security. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.globalsecurity.org/military/world/afghanistan/forrel-ru.htm*

## مسکو څه غواړي؟

روسیه په داسې حال کې افغان طالبان په مسکو کې د سولې خبرو ته رابولي، چې له ۲۰۰۳ز کال راهیسې د طالبانو ډله د یوې تروریستې ډلې په توګه پېژني. د ۲۰۱٦ز کال په سپټمبر کې جنرال اولېګ سیروملوتوف، د روسیې د بهرنیو چارو مرستیال وزیر وویل، طالبان په روسیه کې د یوې تروریستي ډلې په توګه پېژندل کېږي، چې روسیه د ملګرو ملتونو له نظر سره همغږې ده. همدارنګه د روسیې دولتي رسنۍ تاس (TASS) هم "په روسیه کې طالبان د یوې تروریستې او ناقانونه ډلې" په توګه اعلان کړې ده[26].

دا چې ولې روسیه اوس‌مهال له همدې «تروریستې ډلې» سره خپلې اړیکې پراخې کړي، دا یو شمېر عوامل لري:

**لومړی** – روسیې له طالبانو سره د بهرنیو اړیکو له لارې لوبډیځ ته ور په زړه کړه، چې که لوبډیځ د افغانستان په اړه په سیمه‌بیزه او یا نړېواله کچه پلانونه جوړوي او د روسیې ګټې له پامه غورځوي، نو روسیه هم کولای شي په خپل وار له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړي. په ۲۰۱٦ز کال کې په افغانستان کې د سولې په موخه د همغږۍ څلور اړخیزه ګروپ بڼه غوره کړه (Quadripartite Coordination Group) چې امریکا، چین، پاکستان او افغانستان یې غړي هېوادونه وو. غړو هېوادونو له طالبانو سره د مذاکراتو په موخه ناستې جوړې کړې، خو کومه بریالۍ لاسته راوړنه یې نه درلوده.

**دویم** – د طالبانو د ملاتړ له لارې د روسیې مشرتابه غواړي، په سیمه کې د امریکا متحدو ایالتونو او ناټو د نفوذ پر وړاندې خنډونه پیاوړي کړي.

**درېیم** – روسیه په افغانستان کې د داعش د نفوذ له لارې د خطر احساس کوي. له ۲۰۱۴ز کال وروسته، روسیه منځنۍ اسیا او په ځانګړي ډول روسیې ته د داعش د نفوذ پراخېدو او یا انتقال اندېښنه لري؛ دا چې طالبان د داعش پر وړاندې جنګېږي، نو له طالبانو سره مرسته د روسیې لپاره ښه وسیله جوړه شوه. د ۲۰۱۷ز کال په ډسمبر کې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر څرګنده کړه، چې روسیې له داعش سره د مبارزې په موخه له طالبانو سره استخباراتي معلومات شریکول[27].

**څلورم** – د روسیې لپاره بل سرخوږی افغان تریاک دي. افغانستان د ټولې نړۍ ۹۰ سلنه نشه یي توکي برابروي، چې ډېری یې د طالبانو تر حاکمیت لاندې سیمو کې کرل کېږي. په روسیه کې د نشه یي توکو د استعمال له کبله هر کال ۷۰۰۰ کسان وژل کېږي. نو ځکه روسي چارواکي باور لري، چې له نشه یي توکو سره په مبارزه کې د ملي یووالي حکومت په پرتله افغان طالبان کولای شي ښه مرسته وکړي[28].

---

[26]Samuel Ramani, Russia and the Taliban: Talking with Terrorists, January 12, 219. Access date: 19/6/2019. Online access: *https://thediplomat.com/2019/01/russia-and-the-taliban-talking-with-terrorists/*

[27]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/*

[28]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/*

په افغانستان کې د نشه يي توکو تولید د ۲۰۰۱ز کال په پرتله په ۲۰۱۲ز کال کې ۱۹ ځله لوړ شوی دی، او روسیه یې ستر مارکېټ دی. د روسیې شاوخوا شپږ سلنه وګړي پر نشه يي توکو روږدي دي او د یادو نشه يي توکو اساس تر ډېره له افغانستان څخه دی[29].

**پنځم؛ د امریکا ځنډې ته کول او خپل نرم ځواک زیاتول**

له طالبانو څخه د روسیې ملاتړ کولای شي د افغانستان راتلونکي لپاره بېلابېلې پایلې ولري، لکه د مرکزي حکومت کمزوري کول، چې په دې سره به په کابل کې د متحدو ایالتونو د ملاتړي حکومت قدرت هم محدود کړي. همدارنګه روسیه هڅه کوي، د افغان شخړې د حل په موخه د امریکا متحده ایالتونه ځنډې ته کړي. د طالبانو له وسله والې ډلې سره د روسیې خبرې به د روسیې رول د یو منځګړي په توګه هم پیاوړی کړي. د ۲۰۱٦ز کال د ډسمبر راهیسې، روسیه په دوامداره توګه له طالبانو سره خبرې پر مخ وړي، ترڅو په افغانستان کې روان بحران ته د پای ټکی کېږدي[30].

## د مسکو د افغان سولې پروسې ارزونه

مسکو ته د افغان طالبانو له رابللو وړاندې، روسیې د ۲۰۱٦ز کال په ډسمبر کې د روسیې، چین او پاکستان درې اړخیزه ناسته پیل کړه. خو د افغان حکومت چارواکو له خوا توند غبرګون وښودل شو، چې روسیه غواړي افغان حکومت ځنډې ته کړي او دغه راز د افغانستان په کورنیو مسایلو کې هم لاسوهنې کوي. د افغان حکومت د توند غبرګون او نیوکو له کبله روسیې یو ځل بیا د ۲۰۱۷ز کال په فبرورۍ کې د شپږو هېوادونو د استازو په شمول د افغان حکومت استازي هم راوغوښتل او پر افغان سولې یې ټینګار وکړ. له یادې ناستې داسې په ډاګه کېږي، چې روسیه د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د موازنې ستراتېژۍ ته غېږ پرانیستې او هڅه کوي له دې لارې د شخړې په حل کولو کې خپل اغېز پراخ کړي[31] .له دې ناستې دوه میاشتې وروسته، روسیې د ۲۰۱۷ز کال د اپرېل په میاشت کې د افغانستان په تړاو د ۱۱ هېوادونو یوه بله ناسته هم چمتو کړه. د مسکو په دغه پروسه کې د ۱۱ هېوادونو ګډون (د منځنۍ اسیا هېوادونو، ایران، هندوستان او افغانستان) په ډاګه کوي، چې د مسکو له لوري له طالبانو سره د همکارۍ ستراتېژي ځانګړې اغېزه لري او د سیمه‌ییزو ملګرو له لوري په رسمیت پېژندل شوې[32].

دغه راز، وروسته روسیې په مسکو کې د افغان سیاسي ګروپونو ترمنځ د خبرو اترو زمینه هم برابره کړه، ترڅو د افغانستان امنیتي او سیاسي وضعیت په اړه یوې ځانګړې اجماع ته سره ورسېږي. له دې غونډې د روسیې دوه اساسي موخې وې:

**لومړی –** دا چې امریکا او طالبان د خبرو په جریان کې دي او روسیه په مسکو کې افغان سیاسي ګروپونه د خبرو لپاره راغواړي، داسې په ډاګه کوي، چې روسیه د امریکا له وتلو وروسته د افغانستان د وضعیت په اړه اندېښنه لري او روسیه باوري ده، چې له

---

[29]Richard Ghiasy, the Evolution of Russian Geopolitical Interests in Afghanistan: from Opportunity to Liability, 22 March 2017. Access date: 24 June 2019. Online access: *https://www.bishkekproject.com/memos/13*
[30]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/*
[31]Samuel Ramani, Russia's falling out with Kabul, The Diplomat, June 06, 2019. Access date: 18/6/2019. Online access: *https://thediplomat.com/2019/06/russias-falling-out-with-kabul/*
[32]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/*

طالبانو سره له خبرو پرته سوله ناشونې ده، نو ځکه روسیه په لومړي ګام کې طالبان په افغانستان کې د یو پیاوړي سیاسي لوبغاړي په توګه پېژني، ترڅو په راتلونکي کې په افغان سوله کې رغنده رول ولوبوي.

**دویم –** په چټکۍ سره له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل، هېواد ته خطر اړولی شي. نو سوله هغه مهال په افغانستان کې راتلای شي، کله چې د افغانستان د راتلونکي په تړاو واک په خپله د افغانانو په لاسونو کې وي. له دې لارې نه یوازې دا چې د افغانستان بلکې د ګاونډیو هېوادونو لپاره هم ثبات شونی دی؛ نو روسان پر دې باوري دي، چې د افغانستان په اړه په روسیه کې د داسې مجلسونو جوړول یوازې او یوازې همدا موخه لري[33].

ځینې لیکوالان ادعا کوي، چې د افغانستان شخړې په حل کولو کې کېدای شي دا هم مرسته وکړي، چې امریکا دې په خپله ډیپلوماتیکه کړنلاره کې بدلون راولي. په افغانستان کې له طالبانو سره د سولې په موخه د امریکا اوسنۍ هڅې د منځګړي په توګه تمرکز کوي. لیکوالان وړاندیز کوي، د سولې په موخه ګټوره کړنلاره به دا وي، چې امریکا دې د افغانستان د سولې په مسله کې شپږ ګاونډیان او نور سیمه‌ییز لوبغاړي لکه روسیه، هند، اروپایي اتحادیه ښکېل کړي، ترڅو د هېواد په راتلونکي کې رول ولري[34].

د روسیې حکومت د افغان سولې په موخه ګام په ګام خپله ډیپلوماتیکه ښکېلتیا پر مخ وړي، ترڅو پر طالبانو د خپل زیاتېدونکي نفوذ او له تماسونو په ګټې اخیستنې سره د سولې پروسه مخ ته یوسي[35]. په بل اړخ کې مسکو ته د طالبانو د تګ او ګډون هدف هم یوازې دا نه وو، چې د سولې په خبرو کې دې ګډون وکړي، بلکې دا هم و، څو واشنګټن ته په ډاګه کړي، چې که امریکا د سولې خبرو ته چمتو نه وي، نو طالبان نور غوراوي هم لري، چې هغه روسیه ده، ترڅو له دې لارې سیاسي او پوځي ملاتړ ترلاسه کړي[36].

## پایله

روسان تر ډېره بریده په افغانستان کې له روان وضعیت-په ځانګړي ډول ناامنۍ وېره لري. په افغانستان کې لوېدیځ او روسیه مشترکې ګټې لري، خو همکاري بیا د یو شمېر نورو سیمه‌ییزو مسایلو لکه اوکراین او سوریې له امله قرباني کېږي.

په دې وروستیو کې د مسکو او کابل په اړیکو کې اندېښنې په زیاتېدو دي. دا چې په دې وروستیو کې د سولې په پروسه کې روسیې د افغان حکومت د اپوزېسیون سیاسي څېرې ځان ته رانبږدې کړي او د سولې په پروسه کې یې د حکومت له استازو پرته طالبان ښکېل کړي دي، نو دا به په راتلونکي کې د کابل او مسکو اړیکې نورې هم سړې کړي.

له همدې ځایه په هغه کچه چې د ولسمشر غني په دوره کې له سعودي عربستان، چین او د سیمې له یو شمېر نورو هېوادونو سره اړیکې پراخې شوې، د سیمې له ستر قدرت روسیې سره هومره پراخې نه شوې، په ځانګړي ډول کله چې په دې وروستیو

[33]Umair Jamal, Understanding Russia’s Motivations in Hosting Inter-Afghan Talks, February 12, 2019. Access date: 9/6/2019. Online access: *https://thediplomat.com/2019/02/understanding-russias-motivations-in-hosting-inter-afghan-talks/*

[34]Richard N. Haass, Agonizing Over Afghanistan, Council on Foreign Relations, January 14, 2019. Access date: 16/6/2019. Online access: *https://www.cfr.org/article/agonizing-over-afghanistan*

[35]Ayaz Gul, Russia set to host Taliban, Afghan Politicians, VOA, 27 May 2019. Access 23 June 2019. Online access: *https://www.voanews.com/world-news/europe/russia-set-host-taliban-afghan-politicians*

[36]Arkady Dubnov, What game is Russia playing in Afghanistan? 14 Nov, 2018. Access date: 18/6/2019. Online access: *https://www.aljazeera.com/indepth/opinion/game-russia-playing-afghanistan-181113160715311.html*

کې روسيې په خپله مشرتابه او کوربه توب د افغان سولې په موخه په مسکو کې يو شمېر سيمه‌ييز کنفرانسونه راوبلل، چې تر ډېره بريده د افغان دولت په ناخوښۍ تمام شول.

په مسکو کې د افغانستان د سولې په اړه ترسره شوې غونډې که څه هم تر دې دمه کومه ځانګړې پايله نه ده لرلې، خو روسيه يو ځل بيا غواړي په افغانستان کې د يو مهم يا ستر لوبغاړي په توګه ځان راڅرګند کړي. له بل لوري ياد کنفرانسونه د طالبانو لپاره هم ګټور تمامېږي، ځکه د لومړي ځل لپاره د دوی استازو په داسې ناستو کې ګډون وکړ، چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د دايمي غړي-يعنې روسيې له لوري تنظيم شوي وو.

روسيه د افغانستان د سولې په پروسه کې هڅه کوي فعال رول ولوبوي چېرته چې د سيمې او نړۍ د زبرځواکو هېوادونو ګټې نغښتې دي. په افغانستان کې د روسيې د سولې هڅې له امريکا سره له ملګرتيا پرته نشې برياليې کېدلای، ځکه امريکا په افغانستان کې پوځي شتون لري او د موجوده حکومت ملاتړ هم کوي. د طالبانو مشرتابه هم پر دې پوهېږي، چې د روسيې د سولې هڅې د امريکا له ګډون پرته برياليۍ نه ښکاري، نو ځکه طالبان هم چمتو دي له امريکايانو سره د سولې مخامخ خبرې پر مخ بوځي.

په هره اندازه چې د افغانستان ثبات له خطر سره مخ کېږي، هومره د روسيې مداخلې ته زمينه چمتو کېږي، ځکه بې ثباته افغانستان د روسيې ګټو ته خطر دی، نو دا چې په باثباته افغانستان کې د روسيې په ګډون د ګاونډيو او سيمې ټولو هېوادونو ګټې خوندي شي، بايد افغان سوله د يوې ځانګړې اجماع له لارې ترسره شي.

## وړانديزونه

روسيه د سيمې ستر سياسي، پوځي او اقتصادي قدرت دی، افغان دولت بايد هڅه وکړي، چې د روسيې په ګډون د سيمې له ټولو هېوادونو سره په موازي ډول دوه اړخيزې او څو اړخيزې اړيکې پراخې کړي. د روسيې په ګډون د سيمې ټول هېوادونه بايد د افغانستان ګټې په پام کې ونيسي او د افغانستان سياسي ثبات او اقتصادي پرمختګ خپل ګډ مسوليت وګڼي او د افغان سولې په تړاو په هره موضوع کې بايد له افغان دولت سره په مستقيم ډول په اړيکه کې شي.